AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوښ مرادزی ۱۵ / ۰۵ / ۲۰۲۱

# روان حالات او تش په نامه روشنفکران!

لومړی باید ووایم چې د «تش په نامه» روشنفکرانو څخه موخه، یوازې هغه کسان دي چې د حالاتو او پېښو د شنني، څېړني او د ذهنونو د تنویر ادعا کوي، خو د دې ټولو منطقي پایله یا غایي هدف یې د طالب او جهادي مافیا په ژرنده، په لوېلاس اوبه ورسمول دي!

د هېواد په روانو حالاتو کې چې د اسلام اباد او تهران په ملاتړ د طالب وسلواله جګړه او د جهادي مافیایي کړیو سبوتاژ یي منځری جوړوي؛ د مرکزي حکومت کمزوري ښودل یا کمزوري کول او پر شاوخوا یې د ځواکونو د راټولو پرځای، د هغو پاشلو ته مغز او قلم کارول، ایا د روشنفکر ضمیر او نوم سره سمون لرلای شي؟ ځواب منفي دی، هیڅکله نه!

د مرکزي حکومت سره چې له ښه مرغه انتخابي هم دی، په ځینو برخو کې اختلاف لرل او د اساسي قانون او نورو تسجیل شویو قوانینو په چوکاټ کې د حکومت په کمزوریو نیوکه، یو څه دی او د حکومت سبوتاژ، تخریب او کمزوري کول بل څه دي. د ملي ګټو او ارزښتونو په خلاف، حکومت سره اختلاف لرل؛ له ملي ګټو انحراف، حتی ملي خیانت ګڼلی شو. دا هغه جایز سیاسي اختلاف نه دی چې ځینې یې فکر کوي!

دا مهال چې هېواد په ټپل شوې جګړه کې ښکېل دی، مرکزي حکومت سره اختلافات باید یوخوا ته او بل وخت ته پرېږدو. پر مرکزي حکومت باید راټول شو، هغه غښتلی او پیاوړی کړو چې طالبانو سره د سولې په خبرو کې غوڅ او پرېکنده دریځ ونیسي او بلاخره دایمي اوربند او سولې ته ورسیږو.

تېره دوشنبه د می میاشت په لسمه، کابل ته د انګریز لوي درستیز جنرال نیکولس پاټریک کارټر او ورسره د پاکستان لوی درستیز قمر جاوید باجوه او د ISI مشر جنرال فیض حمید هممهال سفر وکړ. دوی په ارګ کې د ولسمشر اشرف غني سره لیده کاته او خبرې وکړي چې اوس هم د رسنیو تر سترګو لاندې دي.

دې پلاوي سره د خبرو په تړاو د ولسمشری مانۍ په خبرپاڼه کې راغلي«دغې لیدنه کې د افغانستان د سولې بهیر، د پاکستان او افغانستان د اړیکو، د سولې بهیر کې د پاکستان پر ونډې او په افغانستان کې د تاوتریخوالي پر پای خبرې اترې وشوې.

ولسمشر غني په دغه لیدنه کې په ټینګار سره وویل چې د سیمه ییزو هېوادونو په ځانګړې توګه د پاکستان رول د سولې په ټینګښت او پر طالبانو د دغه هېواد اغېزه ډېره مهمه ده او د دواړه ګاونډي هېوادونه له متقابل درناوي، د ګاونډیتوب حسن او اقتصادي همکاری پرته بله لار نه لري.

ښاغلي غني د دواړو هېوادونو ثبات په یو بل پورې تړلی ګڼي او په افغانستان کې د عادلانه او پایپدونکي سولې د ټینګښت په برخه کې د پاکستان د صادقانه او اغېزناکه رول غوښتونکی شو.»

د همدې سفر په درشل کې په افغانستان کې د سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو استازی زلمی خلیلزاد د جرمني شپیګل ورځپاڼې سره په خپله تازه یوه مرکه کې ویلي، «دوی بریتانیا ته دنده سپارلې چې افغانستان او پاکستان سره نږدې کړي. د خلیلزاد په وینا پاکستان په افغانستان کې مشروع ګټې لري چې افغانان باید درناوی ورته وکړي. هغه زیاته کړې چې بریتانیا به د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ستونزو د حل لپاره کوښښ کوي او هڅه به کیږي چې د دواړو هېوادو ترمنځ امنیتي تړون رامنځته شي، ویسا ورځپاڼه»

د افغانستان او پاکستان ترمنځ امنیتي داسې تړون چې اسلام اباد پکې د افغانستان په اړه د برتاوي هند د استعماري مهال دندې پر غاړه واخلي او د افغانستان په کور دننه او دا راز په بهرنی پالیسي کې د افغانستان د واک لاسونه ترشا وتړي، په طبیعي توګه افغانانو ته د منلو نه دي او د ولسمشر غني په مشری افغان دولت به یې هم هیڅکله ونه مني.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**په دې اړه ولسمشر غني شپيګل سره مرکه وايی «زما هدف دا دی چې افغانستان بې پرې پاتې شي. موږ نه غواړو چې افغانستان د يوه هيواد په وړاندې له بل سره ملګری شي. موږ نه غواړو چې په سيمه ييزو سياليو کې شامل شو.»**
فکر کيږي چې په پورته بيان کې د حکومت دريځ څرګند دی. داسي څرګندونه د افغانستان د پخواني دوديز بهرني سياست سره چې «بې پرې پاتې شي»، اړخ لګوي.
ريښتيا هم که په نني سياسي چاپيريال کې افغانستان د پاکستان سره امنيتي تړون لاسليک کړي؛ دا به سيمه کې د نويو وسلوالوسياليو وسيله شي. افغانستان ته به نه يوازې سوله او امنيت رانه وړي، بلکې افغانستان به هم د پاکستان پشان د سيمي هېوادو لپاره د توپ په تمبره بدل کړي. ښاى خليلزاد به د يو امريکايي پتوګه، انګريزانو سره په ګډه د امريکا د راتلونکو موخو او ستراتيژيو لپاره سيمه کې د داسي يو تړون اړتيا ويني، خو افغانان خپلې ملي ګټې په داسي تړون کې نه ويني او داسي تړون، افغانستان نويو ستونزو او پوځي مخامختياوو ته ورکښاسي.
**بلخوا پاکستان سره امنيتي تړون، د سينټو د پوځي تړون لمسی ښکاری چې افغانان له ډېر پخوا هغه پېژني او په اړه يې ښه زړه نه لري!**
له بده مرغه لېدل کيږي، د دې پرځاى چې «تش په نامه» روشنفکران داسي چارې ژورې وڅېړي او ښه يې وشاربي؛ ګټې او تاوانونه يې په نوي چاپيريال کې وارزوي؛ د انګريز، امريکا او اسلام اباد د موخو په اړه غوڅې څرګندوني وکړي او افغانان د دوی په موخو او نيتونو لا ښه وپوهوي؛ پرځاى يې له اوبو مخکې ګاولې باسي، د خپلو ټاکلو موخو لپاره د اسلام اباد او انګريز پرځاى افغان حکومت او ولسمشر غني ته بد رد وايي. البته دا نه يوازې له انصاف لېرې دي، بلکې دلته هم ملي ګټو(چې نن سبا يې مرکزي حکومت اساسي برخه جوړوي)، سره لويه جفا ده او کفاره به يې افغانان پرېکوي!
همدارنګه د هغه «تش په نوم» روشنفکرانو په خواب کې چې طالبانو سره د غوڅې مبارزې په اړه پر ولسمشرشک کوي، شپيګل سره مرکه کې ولسمشر غني زياتوي«پاکستان کې د (طالبانو) ملاتړ يو منظم سيستم اداره کوي. طالبانو له هغه ځايه لوژيستيکي او مالي ملاتړ ترلاسه کوي او هماله جلب و جذب کوي. د طالبانو د تصميم نيولو بېلا بېلې شوراګانې لکه د کوټې شورا، د ميرانشاه شورا او د پېښور شورا د هغو ښارونو په نامه دي چې د طالبانو مشران هلته اوسي. دوی د پاکستان له دولت سره ژورې اړيکې لري»
بلخوا د دې ډول روشنفکرانو دا ادعا هم چې وايي د انګريز او پنجابي ګډ پلاوي سره ولسمشر ژمنه کړې چې ۷۰۰۰ زره طالب بنديان به خوشي کوي، بې بنسټه ښکاري. ولسمشر غني په دې تړاو په غوڅو ټکو وايي، ترڅو د اوربند او سولې په تړاو اړين پرمختګ ونه شي، بنديان نه خوشي کيږي.
د مرکزي حکومت په وړاندې د پوچو ادعاوو بېلګې نورې هم شته.
په داسي حساسو حالاتو کې چې حکومت د طالبي جګړه مارو او مافيايي کړيو سره په غوڅې مبارزې بوخت دی، په وړاندې يې د يو شمېر روشنفکرانو تياره او د کيني ډک چلند، د بخښني نه دی!
پاى


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ